PROPERTY OF ACKU

دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت

اونيزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

شهادت خلورم کال، ۴۵ مه گڼه، پرله پسې ۱۹۲ مه گڼه چهارشنبه ۱۳۹۱ هـ ل د کب ۹ مه د۱۴۳۴ هـ ق د ربیع الثانی ۱۲ مه د۲۰۱۳ م د فبروری ۲۷ مه

درس قرآن

هلاک او تباهي ده ډنډې وهونکو ته. هغوی چې له خلکو څخه راپیمانه کوي نو پوره یې اخلي او چې نورو ته پیمانه ورکوي او یا څه ورتلي نو کمې پکې کوي آیا پدې باور نلري چې راپورته به کړای شي. یوې لوی ورځې ته. پدې ورځ به ټول خلک د رب العالمین په وړاندې ودریږي. (سورة المطففین: ۱ - ٦ آیتونه)

درس حدیث

از ابو هریره رضی الله عنه روایت است که: پیامبر صلی الله علیه وسلم فرمود: آنکه بخدا و روز آخرت ایمان دارد، باید مهمان خود را احترام کند و آنکه بخدا و روز آخرت ایمان دارد، باید در انجام صلهٔ رحم پیوسته اقدام کند و آنکه بخدا و روز آخرت ایمان دارد، باید سخن خیر بر زبان راند و یا خاموش شود. (ریاض الصالحین)

دستور رئیس جمهور کرزی، طراحان ناتو را غافلگیر کرد

شاید هدف این تصمیم رئیس جمهور کرزی خاموش نمودن بعضی از اقوام و باشنده گان ولایت میدان وردک باشد تا آنها بر ضد حکومت اقدام نکنند - (کریمی)



ناتو تا حال اسنادی را بدست نیآورده است که ادعا را در مورد بدرفتاری قوای خاص ثابت کند. ما هر ادعای بد رفتاری را جدی می گیریم و سعی می کنیم تمام حقایق مربوط به آن واضح شود. (گونتر کاتس)

کابل، رسانه ها:
دستور رئیس جمهور کرزی که قوای خاص امریکا در ظرف دو هفته ولایت میدان وردک را ترک کنند، طراحان نظامی ناتو را غافلگیر کرد.
این تصمیم رئیس جمهور کرزی در یک زمانی اعلان شد که در مورد حضور یک تعداد سربازان امریکائی در افغانستان بعد از خروج قوای محارب این کشور در سال ۲۰۱۴ از افغانستان بحث ها دوام دارد.
با این تصمیم سوال پیدا می شود که چند تن از قوای خاص امریکائی در افغانستان مستقر خواهند بود. این تصمیم در خود کابل هم نگرانی ها را بیشتر ساخته است،...

بقیه در صفحه ۴

په وردگو کې دې د خلکو شکایتونه وڅېړل شي (جان کیري)

ویل کېږي هغه افغانان چې له امریکايي پوځیانو سره په دې ډول عملیاتو کې گډون کوي امریکایانو پخپل سراستخدام کړي او د افغانستان حکومت ته ځواب ویونکي نه دي. ادعا کېږي چې ددغو افغانانو په منځ کې ځیني متعصب کسان شامل دي، چې داډول پېښو ته لمن وهي.

کابل، رسنی:
د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کیري پرون وویل، د هغو افغانانو په اړه شکایتونه به وڅېړل شي چې په افغانستان کې د امریکا له خاصو ځواکونو (سأپشل فورس) سره کار کوي.
جان کیري دا خبره وروسته له دې وکړه چې د افغانستان ولسمشر د خلکو او ولایتي چارواکو له شکایتونو وروسته له میدان وردک ولایت څخه د امریکا د خاصو ځواکونو د وتلو امر وکړ.
د کرزي له امر سره سم باید د امریکا سپېشل فورس د مارچ تر دریمې نېټې پورې له میدان وردک څخه ووځي.

پاتې ۴ مخ

توطئه فرار دادن مغزها از کشور

(اعزامی) - صفحه دوم

تجلیل از قیام سوم حوت همشهریان کابل در مقر دفتر شورای ولسوالی پغمان

حماسه سوم حوت سال (۱۳۵۸) شهریان کابل افتخار بزرگ برای مردم افغانستان است که زنان، مردان و اطفال با دستان خالی در مقابل سربازان مجهز ارتش سرخ ایستادند و با خون خویش ورق دیگری را در صفحه تاریخ کشور گشودند. سوم حوت صدای آزادگی مردمی است که نعره های کفرشکن آنها لرزه بر کاخ استکبار جهانی و مزدوران شان انداخت.
در قیام سوم حوت تمام اقشار اجتماعی از هر قوم، منطقه و مذهب شرکت داشتند و چنین مشارکت فراگیر ملی در قیام های دیگر برجسته به نظر نمیرسد، این قیام انفجار خشم مقدس مردم افغانستان از شمال گرفته تا شرق، غرب، مرکز و جنوب کابل بود...

بقیه در صفحه ۴

تجلیل از سوم حوت و انتخاب رئیس دفتر حزب اسلامی در ولایت هرات

شهادت:
به تاریخ ۳/۱۲/۱۳۹۱ حزب اسلامی افغانستان، در مقر آن حزب در شهر هرات بمناسبت بزرگ داشت قیام سوم حوت مردم شهر کابل جلسهٔ را دایر نمود، و از قیام دلیرانه مردم قهرمان کابل علیه تجاوز و اشغال اتحاد جماهیر شوروی وقت ستایش و تمجید نمودند در این محفل پرنور هر یک قاضی بسم الله بسمل عضو شورای اجرائیه حزب اسلامی و رئیس دفتر ولایتی حزب اسلامی در هرات و الحاج مولوی محمود شفیق استاد پوهنتون هرات باالنوبه پیرامون قیام افتخار آفرین و شجاعانه مردم کابل صحبت نموده و بیان داشتند که قیام این روز ثبت اوراق تاریخ زرین کشور ما و جهان آزادی خواه گردیده است، و تاریخ انزجار و نفرت مردم افغانستان و جهان را به این تجاوز بی شرمانهٔ اتحاد شوروی وقت برای نسل های آینده بیان داشته و در حافظه خود حفظ مینماید. در ختم محفل به اساس پیشنهاد محترم قاضی بسم الله (بسمل) نسبت مشکلات وظیفوی شان برای تعین مسؤول دفتر حزب اسلامی در هرات میان اعضای حزب اسلامی حاضر در مجلس نظرخواهی گردیده که در نتیجه به اتفاق آراء، برادر محترم الحاج مولوی محمود شفیق استاد پوهنتون هرات به حیث مسؤول دفتر ولایتی حزب اسلامی در هرات تعین گردید و از خداوند منان برای ایشان مؤفقیت کامل را در امور دارین خواهانیم.

مالیې وزارت د وزیرانو شورا د اقتصادي کمیټې پریکړې لغوه کړه

د وزیرانو شورا اقتصادي کمیټې د سوداگرو په غوښتنه پرهغو څه باندې دریو زره کانتیره مالونو باندې گمرکي محصول معاف کړی و، چې پاکستان د څه باندې دریو میاشتو لپاره په خپلو بندرونو کې درولي و.

کابل، رسنی:
د افغانستان د مالیې وزارت وایي، چې د وزیرانو شورا اقتصادي کمیټې هغه پریکړه بیرته لغوه کړې چې ویلي یې و، د افغان سوداگرو په هغو سوداگریزو مالونو دې گمرکي محصول نه اخیستل کیږي، چې پاکستان د څو میاشتو لپاره

پاتې ۴ مخ

فهرست حدود ۷ هزار مرکز رای دهی به ارگانهای امنیتی سپرده شد

کابل، پژواک:
کمیسیون مستقل انتخابات دیروز، فهرست مراکز رای دهی را بخاطر ارزیابی وضعیت امنیتی آن محلات ؛با ارگان های امنیتی شریک ساخت.
ضیاءالحق امرخیل رییس دارالانشای کمیسیون مستقل انتخابات، به تاریخ (۸ حوت) به آژانس خبری پژواک گفت که دیروز (۸حوت) لست ۶۹۱۸ مرکز رای دهی انتخابات آینده ریاست جمهوری و شوراهای ولایتی را، طی مکتوبی ، به ارگان های امنیتی ارسال شد.

بقیه در صفحه ۴

نړۍ وال ځواکونه دناامنۍ مسؤول وپيژندل شول

(عبدالله کامه وال)

له میدان وردگو ولایت نه د امریکا د ځانگړو ځواکونو د ایستلو په اړه د افغان حکومت غوښتنې په نړیوالو رسنیو کې پراخ انعکاس موندلی دی.
ولسمشر حامد کرزی ځانگړو امریکایي ځواکونو ته ویلي دي، چې په دې ولایت کې دې سمدلاسه خپل عملیات بند کړي او په دوو اونیو کې دې له دې ولایت نه ووځي.
افغان حکومت وایي، ځانگړو امریکایي ځواکونو په میدان وردگو کې د خپلو عملیاتو په ترڅ کې خلک زوروللي، ربړولي ان وژلي یې دي که څه هم دالومړی پیښه نه ده چې دنړیوالو اشرگړو له لورې ترسره کیږي اونه لومړې ولایت دی چې ولس یې نورد بهرنیو ځناور فطرته عسکرو له لورې په کوکارو دي...

پاتې دریم مخ

په کابل ښار کې د استوگنې زر اپارتمانونه جوړیږي

کابل، رسنی:
د افغانستان د ښارجوړونې وزارت د دوو ترکي ساختماني شرکتونو په مرسته غواړي؛ د کابل ښار په خواجه رواش سیمه کې د استوگنې ځوارلس بلاکونه جوړ کړي.
د ښار جوړونې وزارت له خوا په کابل ښار کې، د ښارگوټو د جوړولو په لړ کې د دې وزارت چارواکو د استوگنې د څوارلسو نورو بلاکونو د جوړولو تړون له ترکي ساختماني شرکتونوسره لاسلیک کړ.
د افغانستان د ښارجوړونې وزیر حسن عبدالهي...

پاتې ۴ مخ

سرمقاله

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

قاضیانو لږ پام!

له کله نه چې انسان نړۍ ته راغلې ورسره جوخت د ظالم او مظلوم کیسې هم شروع شوي دي خو لوی الله جل جلاله د ظلم او تیري د مخنیوې او د مظلوم د حق د اعادې او تحقق له پاره آسماني قانون او پیغمبران هم استولي دي. موږ هم چې د آخرې زمانې د خاتم النبیین محمد صلی الله علیه وسلم وروستې امت یو له قانون او نظام څخه بې برخې نه یو، د قرآن کریم په څېر سپیڅلی کتاب یې موږ ته را استولې او فرمایلی یې دي چې:

((ای محمده! موږ تاته کتاب درلېږلې تر څو دهغه په رڼا کې د خلکو ترمنځ پریکړې وکړې))

په همدې سپیڅلې کتاب (قرآن کریم) کې دا هم فرمایلی دي چې کله تاسې د خلکو ترمنځ د راپېښ شویو لانجو پریکړه کوئ نو په بشپړ عدالت سره یې وکړئ.

مطلب دا چې داسې فیصلې مه کوئ چې د چا حق تر پښو لاندې شي، بلکې داسې فیصلې وکړئ چې حقدار ته حق ورسېږي، او ظالم دخپل ظلم په مطابق خپله سزا وویني.

له بده مرغه افغانستان د نړۍ داسې یو هېواد دی چې دلته تر ډېره حده په عدلي او قضایي ارگانونو کې د حق فیصلې نه کېږي، د حق ځای رشوت، قوم پالنې، واسطو، اندیوالۍ او مخ مروت نیولې دی. په عدالت کې هغه څوک برلاسې او بریمن وي چې یا ډېرې پیسې ولري او یا قوي واسطه او اندیوالي، خو دا ټول له الله تعالی او دهغه له دین سره ستره دښمني او جفا ده، دداسې خلکو په باره کې الله تعالی په څرگند ډول فرمایلی دي چې هر چا د الله جل جلاله له لورې په نازل شوی دین پریکړه ونکړه نو هغوی ظالمان، فاسقان او کافران دي. په عدالت کې ناست قاضیان د مظلوم د فریاد د اوریدو او دهغه د روا حق د تحقق آخري مرجعه او امید وي، که هلته هم دهغه د حق پوښتنه ونشي او مظلوم ترینه مایوس، پریشان او د اوښکو په باران کې ووځي نو هغه لپاره په دې دنیا کې لدېنه پورته بله کومه داسې مرجعه موجوده ده چې هلته خپل فریاد وکړي او خپل حق ترلاسه کړي؟!

نو ځکه قاضیانو ته پکار دي چې خپل هغه مقام، مرتبه او مسؤولیت وپیژني چې الله تعالی ورته سپارلی دی او په دې یې ملزم کړې چې حق او باطل سره گډ نه کړي، دا ځکه چې که کوم سرکش او باغي انسان د قانون نه سرغړونه وکړي او د بل چا په مال ځان او ابرو تېرې وکړي نو دهغه مخنیوې د قانون له لارې کېږي چې د عدالت په مسند ناست قاضیان به دهغه لاسو او پښو ته د ولچک او زولنو په اچولو او د حدودو پر جاري کولو سره به د ظالمانو د ظلمونو جرړې وباسي خو که د عدالت په مسند ناست قاضي پخپله قانون تر پښو لاندې کړي او د پیسو په مقابل کې ظالم ته برئت ورکړي، نو له آسمان نه به څوک راکوزېږي چې عدالت وکړي او حقدار ته خپل حق ورکړي؟! مگر دا چې لوی الله د قیامت په ورځ د حق او باطل ترمنځ فیصله وکړي او ظالم په سزا ورسوي. د یو هېواد امنیت، خوشالي او هر اړخیز پرمختگ دهغه هېواد د قاضیانو سره ژور اړیکه لري. که قاضیان د قانون په تطبیق کې خپل ایماني مسؤولیت ترسره کړي نو له څه شک پرته هېواد او ولس ته لویه نیکمرغۍ او خوشال ژوند ورپه برخه کوي. د قانون د تطبیق له لارې چې کوم اصلاحات راځي او د غټو غټو جرائمو مخه نیول کېږي د یو هېواد لکونه پولیس هومره اصلاحات او سمون نشي راوستلې. په کومو هېوادو کې چې د جرائمو کچه ټیټه ده او هر لوری امنیت خپلې وزرې خپرې کړې دي دا ټول د قاضیانو په حق او انصاف سره د پریکړو برکت دی چې نه د جمهور رئیس مراعت کوي او نه هم د بل کوم جنرال او سرمایه دار، بلکې د قانون پلی کول خپل اصلي مسؤولیت او مکلفیت بولي.

پرحق ولاړه قضأ او فیصلې یې د یو غښتلې افغانستان بنسټ تشکیلوي، تر څو پورې چې د قضا او قاضي قبله نه وي سمه شوې د یو مستحکم افغانستان خوبونه به مو کله هم نه پوره کېږي.

نور که څه نه وي قاضي دې لږ تر لږه د فیصلې پر وخت دا پخپل ذهن کې متصور کړي چې که چېرته داسې ظلم او ناروا زما له پلار، زوی، خور، مور او ښځې سره وشي، نو له قاضي نه به زما د فیصلې څه تمه وي؟ د حقې او که د ناحقې؟

که ناحقه فیصله وکړي نو زما احساسات او جذبات به څومره ټپي کېږي؟ او ایا دا به زما لپاره د زغملو وړ وي او که څنگه؟!

هیله ده چې قاضیان خپل اسلامي او ملي دنده وپیژني او په دې خبره ځان پوه کړي چې د قانون په وړاندې ټول یو برابر دي. نه ولسمشر څه اهمیت لري او نه هم وزیر، وکیل او بل لوړ پوړي چارواکې، نه مور او پلار او نه هم نور خپلوان، بلکې قانون له هر څه پورته او مهم دی.

توطئه فرار دادن مغزها از کشور

اعزامی

سه و نیم دهه جنگ و بحران در افغانستان مصائب و دشواری های بیشماری را برای ملت ما به ارمغان آورد که از آنجمله یکی هم تراژیدی فرار مغزها از کشور می باشد. فرار مغزها در حقیقت جدا شدن هستی و سرمایه معنوی یک ملت از پیکره اصلی آن می باشد. در کشوری که مغزها از بدنهٔ ملت اش جدا شوند، آن ملت به جمجمهٔ خشکیده و کاواکی می ماند که انسان از دیدنش وحشت می کند، زیرا در آن از مغز و اعصاب و شراین و رگ و گوشت و پوست اثری به چشم نمی خورد و در هیکل استخوان پارهٔ پوسیده و کریهی در می آید که جز تولید مضرت و نفرت، دیگر به هیچ دردی نمی خورد.

فرار مغزها و فرار سرمایه، دو مولود نامبارک و مصیبت باری اند که از جنگ و بحران زاده می شوند و با تشدید و ادامهٔ جنگ رشد می یابند. فرار مغزها از کشور ما پس از کودتای کمونیستی هفت ثور ۱۳۵۷ و تشدید ظلم و خفقان رژیم های چپی علیه ملت مسلمان آغاز گردید و با تجاوز قشون اشغالگر سرخ به کشور ما به اوج خود رسید. از آنجائیکه رژیم های کودتایی و دست نشانده، خلاف رأی و اراده مردم روی صحنه می آیند، لهذا عمال این رژیم ها بقای خود را در دشمنی با مردم دیده و اولین کار شان در صحنه عمل، زدودن و فرار دادن مغزهای متفکر و چیز فهم از صحنه می باشد، زیرا عظمت و پویایی هر ملتی مرهون حضور نخبگان و مغزهای متفکر آن است؛ مغزهای یک جامعه عبارت اند از علماء، دانشمندان، متخصصین، مخترعین، سیاستمداران، پژوهشگران، فعالین، دانشجویان و دانش آموزان آن می باشند. همین مغزها اند که به یک ملت موجودیت و هویت می بخشد و با نابودی و فرار آنها، تشخص و هویت ملی یک کشور نیز نابود می شود. ملتی که مغزهایش آوارهٔ کشورهای بیگانه گردد، عناصر جاهل، مستبد، ملحد، مفسد و مزدور به بسیار ساده گی به سرنوشت مردم آن سرزمین حاکم شده و هستی مادی و معنوی آن را به یغما می برند.

اگر در ذهن بعضی دوستان این سوال خطور کند: در صورت فرار مغزها از افغانستان، پس چه کسانی بودند که در برابر تجاوز قشون اشغالگر سرخ و ایادی آنها دست به قیام و مقاومت زده و آخر الامر با دادن شکست عبرت ناک به روس ها، هم امپراطوری کمونیزم را منقرض کردند و هم به سلطهٔ ظالمانهٔ رژیم های دست نشاندهٔ مسکو پایان دادند؟ به پاسخ باید عرض کرد: مغزهائیکه در اثر ظلم و ستم به خارج فرار کردند، به دو دسته تقسیم شدند: یک دسته با گذاشتن همه چیز شان فراری کشورهای غربی شده و در همان جاها زمین گیر شدند و برای آزادی و آبادی وطن اقدامی نکردند؛ ولی دسته دوم که با داشتن تعهدات ایمانی و عشق به آزادی کشور، از وطن فرار نکردند، بلکه برای نجات از دژخیمان رژیم های مستبد به مقصد آزاد سازی وطن به کشورهای همسایه هجرت کردند و پس از کشیدن نفسی به راحت، در صفوف مجاهدین تنظیم شده و دوباره عازم وطن گردیدند و با بذل جان و مال، دشمن را به زانو درآوردند و کشور را از سلطه اشغالگران آزاد کردند. معهذا پیروزی جهاد و آزادی افغانستان از سیطرهٔ کمونیزم نه به وسیله مغزهای فراری بلکه توسط مغزهای مهاجر، مجاهد و آزاده ای صورت گرفت که نخست در صفوف مجاهدین منسجم شدند و بعد تحت رهنمایی پیشگامان جهاد اقدام به مبارزه کردند.

پروسه فرار مغزها با شکست قشون سرخ

و سقوط رژیم ها چپی متوقف نشد، بلکه در اثر جنگ و اختلاف ذات البینی میان گروه های جهادی و بعدتر روی صحنه آمدن طالبان، روند فرار مغزها از کشور ادامه یافت و حتی گفته می شود که در زمان حاکمیت طالبان که برنامه های تعلیمی و تحصیلی رسمی برای تربیه نسل جوان به کندی پیش می رفت، هیأت حاکمه تا حدی به قلت مغزها مواجه بود که حتی برای تصدی یک پست مهم، پیدا کردن یک فرد واجد الشرایط کار مشکلی بود. به هر حال روند فرار مغزها با سقوط رژیم طالبان و روی صحنه آمدن دولت حامد کرزی متوقف شد و بالتدریج با بهتر شدن اوضاع امنیتی، یک تعداد از عناصر فراری با حفظ تابعیت دومی دوباره به وطن برگشتند و در پست های بالای دولتی مقرر گردیدند و برای عودت آنها به علاوهٔ مساعی و تشویق های دولت، جامعهٔ جهانی نیز از طریق سازمان های مربوط با تعیین مستمری ها و دادن امتیازات و تشویق های گوناگون دیگراهتمام نمود.

باید به خاطر داشت که هنوز خیلی از مغزهای فراری، به کشور برنگشته و به بهانه های گوناگون به مفرهای شان لمیده اند و شرایط بی دغدغه و آب و دانه فراوان در آنجاها موجب شده که آنها در اندیشهٔ برگشت به وطن نباشند و منتظر اند که شرایط در افغانستان به همت و ایثار دیگران کاملاً امن و رام گردد تا زمینهٔ عودت برای آنها مساعد شود.

در گذشته تعامل چنان بود که در اثر شرایط ناامن و متشنج، مغزها خود شان از کشور فرار می کردند، ولی اخیراً ما با نوع دیگری از فرار مغزها مواجه هستیم و آن این که مغزها خود فرار نمی کنند، بلکه دیگران به طور داوطلبانه مغزهای ما را فرار میدهند! فرار دادن مغزها، نوع خیلی خطرناک فرار می باشد و اگر مقامات مسؤول دولتی جلو این توطئه را نگیرند، دشمنان با انواع حیل و بهانه ها، تعداد دیگر افراد کار آمد کشور را نیز از کف ما میربایند و زود است که کشور با شرایط بدتر از فرار مغزها در زمان حاکمیت کمونیست ها و طالبان مواجه شود.

درین روزها که شایعهٔ خروج نیروهای خارجی و تفویض مسؤولیت های امنیتی به نیروهای داخلی بالا گرفته و بعضی ها شرایط امنیتی پس از سال ۲۰۱٤ را اطمینان بخش نمیدانند، بار دیگر روند فرار مغزها سر زبان ها است. این بار باز هم با دو نوع فرار مواجه هستیم: یکی آن عده فراری های عودت کرده ای اند که با استفاده از شرایط نسبتاً امن و دریافت امتیازات بی حساب، موقتاً به کشور برگشته و با حفظ تابعیت دومی و ترک فامیل های شان به کشورهای میزبان، در پست های عالی دولتی مقرر گردیده اند و حالا که شرایط را بر وفق مراد نمی بینند، می خواهند بار و بنهٔ خود را بسته و با بسته های پول های ذخیره کردهٔ دوران ماموریت، به وسیلهٔ پاسپورت های خارجی و تذکره های تابعیت دومی نزد فامیل های شان برگردند. دو دیگر آن عده فراری های اند که سناً نسبتاً جوان اند و با فراگرفتن زبان های خراجی طی ۱۱ سال اخیر به صفت ترجمان، دفتردار و پرسونل خدماتی همرای خارجی ها همکاری می کردند؛ حالا که خارجی ها عزم را جزم کرده و تا چند ماه دیگر کشور ما را ترک می گویند، به این همکاران شان وعده داده اند که به خاطر مصؤونیت جانی ایشان، حاضر اند آنها را همراه خود به کشورهای خویش برده و به ایشان سند پناهنده گی بدهند؛ این شیوه فرار در حقیقت فرار کردن نه، بلکه فرار دادن مغزها می باشد. مطابق این شیوه کشورهای خارجی نه تنها این که نیروهای شان را از کشور ما خارج می سازند، بلکه همکاران افغان شان را که در حقیقت سرمایه های فعال و کارآی ملت افغان به شمار می روند، هم باخود میبرند و بدین ترتیب کشور ما را نه تنها در خلای امنیتی می گذارند، بلکه در خلای کادر مجرب و ورزیده نیز قرار میدهند.

تا اکنون کشورهای فرانسه، آلمان، استرالیا و ایالات متحدهٔ امریکا اعلان کرده اند که همکاران افغان شان را پناهندگی سیاسی میدهند و احتمالاً اعضای دیگر ناتو نیز اعلان های مشابهی کنند و به این ترتیب جمع غفیری از افراد چیز فهم و کار آزمودهٔ نسل جوان کشور ما، در پیشاپیش سربازان خارجی از وطن خارج کرده می شوند و افغانستان در خلای کمبود قوای بشری ورزیده قرار گرفته و لطمهٔ سنگینی بر پروسهٔ انکشاف اجتماعی و اقتصادی افغانستان وارد می شود.

بر اولیای امور دولت لازم است که برای خنثی سازی این توطئه از جدیت کار گرفته و برای یک نفر هم اجازه ندهند که به بهانهٔ عدم مصؤونیت پس از ۲۰۱٤ از وطن فرار کنند و یا فرار داده شوند. اگر چه مقامات وزارت کار و امور اجتماعی با ابراز مخالفت در برابر این اعلان کشورهای خارجی، واکنش نشان داد، ولی برای جلوگیری از توطئه فرار دادن مغزها ایجاب می کند که اقدامات جدی تری در مستوای مقامات عالی رتبه روی دست گرفته شود، در غیر آن کشور ما با بحران دیگری روبرو خواهد شد که اضرار آن کمتر از بحران فعلی نخواهد بود.

نړۍ وال ځواکونه د ناامنۍ مسؤول وپېژندل شول

(د لومړۍ مخ پاتې برخه)

...بلکې په تیرو یولسو کلو کې به پرته له یو اویادوه ولایتونو چې هلته به ورته خپلسري عملیات نه وې شوي خونوروټولوولایاتو کې دنړۍ والو ځواکونو بې رحمانه اوخپلسري عملیات ترسره شوي اوپدې عملیاتو کې هیڅ مهم مخالف نه دې په نښه شوې او نه یې کوم دپام وړ لاسته راوړنه لرله په هربرید کې چې دامیریکا اونړۍ والواشرګړو لخوا شوي خورا دردونکې پیښې یې رامنځته کړي بې ګنا ولسي وګړي چې اکثریت یې ښځې اوماشومان وي وژلي او کورونه یې ورته وران کړي چې همدې خپلسرو اوظالمانه عملیاتو دمخالفینو لیکې پیاوړې کړې اودمخالفینو سره یې دولس همدردي پیداکړې هغه تنکي ځوانان چې په ځانمرګو بریدنو کې خپل ځانونه قرباني کوي د دوی ډیرې یې دهغه کلیو او کورنیو پورې اړه لري چې دخپلسرو اوړندوبمباریو نه زیانمنې شوي او د کورنیو غړي یې له لاسه ورکړي هغوته دانتقام بله لاره نه ده پاتې پرته له دی چې دخپلو ځانونو په قربانولو دخپلو کورنیو دغړو انتقام واخلي که څه هم ځینې څیړونکې په دې اند دي چې دې سره به دافغان دولت اوامریکا ترمنځ اوبه خړې شي خو هغه بې باوري او واټن چې دملت اودولت ترمنځ واقع دی هغه به کم اویا هم بیخي ختم شي ځکه نړۍ وال ځواکونه خو که خوشالېدای اویا یې زړه یخېدای نو په دومره مرګونو به یې زړه یخ شوی و خو ښکاري داچې داخونکاره فوځ به دټولو افغانانو پرمرګ هم خوشاله نه شي اونه به ترهګري ختمه شي بلکې ترهګري به لازیاته مخالفین به لاپیاوړي او جګړه به نوره هم اوږده اوخوره شي . خو له امریکا نه خپرېدونکې اخبار وال سټریټ ژورنال لیکي، چې د ځانګړو امریکایي ځواکونو د وتنې په اړه د افغان حکومت غوښتنه، به د انتقال پروسه سخته کړي، ځکه دې سره به د افغان دولت او امریکا ترمنځ اړیکو کې ترینګلیتا اوناباوري رامنځته شي.

ولسمشرحامد کرزي تیره اونۍ هم افغان پوځیانو ته په وینا کې وویل، په خپلو عملیاتو کې باید د هیڅ ډول شرایطو لاندې له ناټو ځواکونو هوایې مرسته ونه غواړي چې زموږ پر کلیو اوباندوباندې هوایی بریدونه وکړي.

د وال سټریټ ژورنال په اند له میدان وردګ ولایت نه د امریکا د ځانګړو ځواکونو د وتلو په اړه د ولسمشر امر، د افغانستان د حکومت د هغو تازه هڅو یوه لړۍ ده ، چې غواړي له ۲۰۱۴م کال د مخه د نړېوالو ځواکونو د عملیاتو ساحه محدوده اوپرځایی له افغان امنیتي ځواکونو دامنیت اوټیکاوپه راوستو کار واخلي. او داسې ښکاري چې د نړېوالو ځواکو نو د ناسم چلن په اړه سخت اقدامات پیل کړي خودسیاسي اونظامي چارو کارپوهان پدې اند دي چې دافغان دولت دا ډول اقدامات پر بهرنیو ځواکونو د یوې ژورې بدګمانی څرګندوی کوي خو له میدان وردګو ولایت نه د امریکایي ځواکونو د ایستلو امر، د ولسمشر کرزي په شمول د ډیرو افغانانو نظر په ډاګه کوي، چې د طالب وسلوالو تر څنګ د نړېوال ایتلاف ځواکونه هم په افغانستان کې د تاوتریخوالي د زیاتیدو مسول دي.

افغان چارواکي بیا وایي، پر دې اقدام یې د وروستي انتخاب په توګه لاس پورې کړی، افغان دولت وایي، څو اونۍ یې هڅه وکړه چې نړېوال ائتلاف دهغه افغانانو په څیړنه کې مرسته وکړي، چې ویل کیږي د امریکا د ځانګړو ځواکونو سره کار کوي لخوا یې ملکیان وژل شوي، نیول شوي او یا ربړول شوي دي. د امریکا د ځانګړي ځواکونو له خوا په افغانستان او نورو ځایونو کې ترسره شوې کړنې پټې ساتل کیږي او په اړه یې اطلاعات په سخته توګه څارل کیږي. په هرحال زموږ ملت نور له خپلسرو عملیاتو اوړندو بمباریو پوزې ته راغلی اوله خپل حکومت نه یې د همدا ډول اقدام توقع وه خو کاش چې ولسمشر دا اقدام پروخت کړی وای نو نن به نه دومره ستونزې وې اونه به دمخالفینو ډلې دومره پیاوړې وی.

جوانان و جامعه مدنی

نورن غلام سخی

(به ادامهء گذشته)

...در کشورهای که قانون اساسی بشکل قراردادی و یا نیمه اعطای تطبیق و استفاده میگردد طوری است که دولت برای مردم و جامعه مدنی شرایط اشتراک شان را در مراجع تصمیم گیری فراهم می سازد و تا حدی اجازه میدهد که در ساختار قانون اساسی سهم بگیرند. نمایندگان دولت و مردم که نقش دولت در این راستا نسبت به نماینده گان مردم و جامعه مدنی برجسته تر است مشترکاً مسوده قانون اساسی را ترتیب و تصویب مینمایند نسبت اینکه ابتکار عمل بدست دولت است و اشتراک و سهم دادن مردم و جامعه مدنی مطابق به لزوم دید مراجع اعمال قدرت دولتی صورت میگردد. بناء نقش مردم و جامعه مدنی در حاکمیت و تطبیق قانون ضعیف بنظر میرسد بخاطریکه حکومت ها در تدوین همچو قوانین که حسب الخواهش آنها موجودیت نماینده گان انتسابی شان ترتیب میگردد، جامعه مدنی از آزادی بیشتر در تطبیق قانون نسبت باز بودن باب مداخله دولت برخوردار نمیباشد، زیرا دولت ها متکی به این قانون اکثراً از طریق توسل به اقتدار که در برنامه ریزی و عملکردهای اقتداری دارند. مانع تطبیق قانون از طرف جامعه مدنی میگردند و نمیگذارند که جامعه مدنی مطابق روش و اهداف که دارد در نظارت بر اعمال حکومت و تطبیق قانون بیشتر عمل کند. نقش و عملکرد جامعه مدنی در این نوع حکومت ها رابطه دارد به میزان و خواست و تحمل مراکز اعمال قدرت، دولت ها جوامع که دارائی قوانین اساسی نیمه اعطایی و یا قراردادی هستند، رشد مناسب در روابط اجتماعی بین افراد جامعه نداشته و حکومت ها میتوانند از طریق فشار و فرار از قانون بالای مردم حکومت کنند با وصف آن هم نقش جامعه مدنی در تسوید و تدوین قوانین اساسی قراردادی نسبت به قوانین اساسی اعطایی و یا اقتداری از آزادی بیشتر برخوردار میباشد و زمینه فعالیت های مدنی و ارتقای ظرفیت های که جامعه مدنی خواهان آن میباشد در بستر همچو شرایط بیشتر رشد مینمایند. جامعه مدنی میتواند با بسیج نیروهای سیاسی، جوانان و افرادیکه به قانون پابند بوده و خواهان حاکمیت قانون در نظام دولت های سلطه طلب و قانون گریز میباشد در تحولات مناسبات اجتماعی جامعه و فشار بالای مراکز اعمال قدرت بیشتر مداخله نمایند و بشکل تدریجی و فعالیتهای سیاسی و مدنی در تشکل و سمت و سویی کسانیکه علاقه مند مبارزه با حاکمان زورگو و قدرت طلب باشند نقش بیشتری را به عهده بگیرد و در صورتیکه نظام حاکم مانع فعالیت های مدنی مردم در تحت سیطره حاکمیت اقتداری و قانون گریز خود شوند. جوانان اهل خبره، سیاسیون و کسانیکه میخواهند قانون که ممثل اراده مردم و قرارداد بین دولت و جامعه است با شعار حاکمیت قانون وارد میدان عمل شده و در برابر اعمال غیر قانونی دولت ها ایستادگی نمایند طوریکه در تحولات و تغییرات نظام های اقتدار طلب که سالیان طولانی با فرار از قانون که خود در تصویب آن قانون رول اساسی داشته اند بالای مردم شان با قانون شکنی ها عمل کرده اند. نتوانسته اند که عمر بیشتری برای بقایایی حکومت های شان بدهند. بالاخره در نتیجه فشار و مظالم بالای مردم در چنگال قانون ساخته خود شان گرفتار آمده اند و مطابق آن در برابر مردمیکه این قانون بالای آنها تطبیق میگردید به محاکمه کشانده شده اند.

منظور از قوانین نیمه اعطایی که نیمی در آن و آنهم بطور استثنایی در تحت سیطر، نظام حاکم و مطابق میل و ارادهٔ حاکمان که از طریق زور بقدرت رسیده اند و مجریان بلامنازعه جامعه شده اند برای جامعه مدنی داده شده است جامعه مدنی که در درون آن جوانان جایگاهی خاص خود را بخاطر تطبیق قانون و نظارت بر اعمال دولت دارند گفته میتوانیم که جوانان برای ایجاد بیشتر زمینه های تحکیم قانون رول عمده را بازی میکنند و طوریکه دیده شده است جوانان در تحولات ا ساسی جوامع سهم فعال و عملی کننده را نسبت به تطبیق و حاکمیت قانون داشته اند.

بناءً ضرور است که در یک کشور اسلامی و در یک جامعه که مسلمانها زندگی می کند به تعلیم و تربیه جوانان توجه خاص را مبذول داشت، زیرا اساسی ترین خواست جامعه مدنی تصمیم حکومت داری نیک، اصلاح نظام سیاسی و مبارزه با فساد، ظلم و خودکامگی های نظام های غیر عادلانه میباشد. جوانان برای سیر تعادل همچو نظام ها در بستر عدالت و تشکیل نظام های انسان مدار حیثیت ماشین خودکار را داشته که تحولات کلان در تغییر ماهیت و نوع نظام بدون سهم گیری فعال و پیشرو جوانان ناممکن است. جوامعیکه در حال پیمودن سیر طبیعی شان میباشند حرکت پویا و متحرک دارند، نقش جامعه مدنی و جوانان در راستای مدیریت نظام اقتصادی و اجتماعی متبارز میباشد، فلهذا در نظام های که دارائی قانون اساسی نیمه اعطایی میباشند مداخله جوانان با جامعه مدنی در تشکلات نظام بخاطر تطبیق قانون بالای مراکز قدرت اصلی حتمی بوده و بدون آن نیمتوان از سیمای عدالت در همچو نظام ها تصوری داشت....

ادامه دارد

د بگرام په وحشتناک زندان کې د ځورونکو شپو یاد

حبیب الرحمن ابراهیمي : Ibrahimi.jornalist@gmail.com

(وروستی برخه)

بیا یې موټر کې کښېنولم اودکابل په لور یې حرکت را وکړ دا سیمه دسرک نو سیمه او د بگرام د سرک نو چې ډریور لږ مخکې راغی ما ورته وویل چې استاده لږ تیز لاړ شه هسې نه چې شپه نه شي راباندې چې بیا به څه کړو ده راته ویل چې ته ولې داسې خبرې کوې اوس خو د سهار اته بجې دی وخت ډیر دی بس هماغه وو چې ډریور راته وویل چې یو نمبر راکړه چې زنګ ورته وکړم او زیری پری وکړم ما ورته وویل چې واخله یو نمبر مې ورته وویل هغه وویل داخو کم نمبر دی بل مې ورته ورکړ ویل یې دازیات دی بالاخره مې ورته وویل واخله دا زما په کالیو کې کوم نمبر پیداکړه هغه وویل چې اې وروره هرڅه دې په جلا پاکټ کې اچول شوي دی داځرنګه چل دې ما ورته وویل چې بس وګوره که مې موبایل په کالیو کې وي یونمبر په کې راواړوه اوزنګ ورته ووهه دابوبکر،هدایت،حمید، اونصرت نومونه مې ورته یاد کړل هغه زنګ ورته وواهه او ګوشي یې ماته راکړه اوراته یې ویل چې ته ورسره خبره وکړه اوزما له خولې همداسې چیغې وزی یعنې خبره نه شم کولای خو هغه ډریورزما دکاکا زامنوته وویل چې پل محمود خان ته راشی او دغه سړی امریکانو په بگرام دښته کې اچولی وو او اوس موږپل محمود خان ته درځو اوتاسو راشي ماډریور ته وویل چې کمپنی ته مې بوزه ده ویل چې موټرمې استاد نه لري اوزه له پل محمود خان نه زیات نه شم تلای خودایي وویل چې زما ورور دی هغه ته دې ورکوم اوهغه به دې وروروسوي په دې وخت کې چې پل محمود خان ته راورسیدو نودغه ډریور ورکړ شولس دقیقی وروسته راغی او سراچه ټکسي یې راپیداکړه اوراته یې وویل چې دغه کس به دې ورسوي او دا زما ورور دی، لنډه دا چې حرکت یې وکړ لږ مخکې چې را غلو نه ګورم چې زما دکاکا زامن شاوخوا تیت او پرک ولاړ دی ځکه دوی ته چې کله ډریور زنګ وهلی چې دغه سړی امریکایانو په بگرام کې خوشې کړی وو نو دوی ډار شوی وو چې ولې یې په دښته کې اچولي اوکیدای شي دده په واسطه نور خپلوان هم ونیسي اوګرفتار یې کړي هغوی راته تاو شول په غېږ کې ونیولم. د حبیب الرحمن موټر ته یې پورته کړم او د کور په لور یې روان کړم کورته په رسیدو سره دسرو امیل او غوړیالی او ګوتې اوخني نور دکورشیان له ځان سره وړي چې ستا په کالیو کې نشته اوګرځولي یې دي.

یوشې چې زما دبندي کیدو سره سم رامنځ ته شوې هغه زما دوستان اوزماخپلوان اوملګري چې دحکومت دوزیرانو سلاکارو وزیرانو والیانو ریسانو، دولسي جرګې وکیلانو، جهادي قومانداناناوو زما مخلصینو، همصنفیانو او ژورنالستانو او د ځنې نورو نکړه ملګرو زما دلټون په خاطر ډیرې هلې ځلې کړي دسویلې اسیا دازادو رسنیو یا سفا دمشر تابه پلاوی اوریس ضیا بومیا ،دویسا ورځپاڼې مسول مدیر زبیر شفیقی اودحقوق پوهانو سم زما نیږدی دوستان او ملګري ټولو ځانونه راورسول ځنې یې له غزنې ځنې له وردګو ځنې یې دکابل ښار له بیلا بیلو سیمو څخه راورسیدل چې ترټولو دمخه امرصاحب ډاکټر صاحب حسیب حاجی صاحب آرینزی اوزه په داسې حال کې وم چې خبرې مې نه شوای کړای او بوازې په کمپله کې پروت وم اوسترګې مې نه شوای لوځولی.

نو چې ګورم دوستان اوملګری مې راځي اوټول خپل محبت ښکاره کوي او غواړي چې خبري راسره وکړي خو زه د خبرو کولو نه وم اوترپنځو ورځو پورې مې سترګې نه شوای لوځولی او ملګرو اودوستانو مې راپوښتنې کولې چې امریکایانو ستا له کوره څه شي وړي ما ورته وویل چې صبر وکړی چې زه مې دکور له خلکو سره خبرې وکړم کله مې چې پوښتنه وکړه چې امریکایانو څه شي وړي د ماشومانو مور راته وویل: چې ته چې خدای جل جلاله په خیر راخلاص کړې موږ ته دا هر څه دي، د مال حال پوښتنې مه کوه ما بیاهم ورته وویل چې دازما ملګري ژورنالیستان پوښتنې کوي واقعیت راته ووایه چې امریکایانو څه وړي دي هغې راته وویل چې امریکایانو ستا کمپیوټر، کمره مبایلونه ،زما دخپلواکې ټولنې مشر ستار سعادت خبرې کانفرانس ورکړي ووترڅو ما پیداکړي خو ډیری دغو دوستانو چې دملي امنیت سره اړیکې ټینګې کړې هغوی ورته ویلي چې په کابل ښار کې له امریکایانو پرته نورځوک ګرفتاری نه کوي اوتاسو مطمین اوسي چې ابراهیمی به موږ درته پیداکړو اوکیدای شي دامنیت په ۹۰ اداره کې وي اویا ۱۷ اداره کې خو هرڅومره چې دوی کوشش کړي زه یې نه یم پیداکړي ځکه زه په بگرام کې وم اودوی به امنیت کې زما لټون کاوه خو زما ددوستانو اودزما دمخلصو ملګرو اوزما دپلار دسنګر دمجاهدینو څخه ډیره ډیره مننه کوم چې زما دخلاصون په خاطر یې ډیرې هلې ځلې کړي خوداچې ددوی هلو ځلو ماته څومره ګټه کړې الله تعالي دوی ته جنت فردوس ورکړي چې زما سره یې خپل اخلاص اوملګرتیا ښودلې ده او زما دخلاصون په خاطریې ډیرې هلې ځلې کړې.

نویرته خپل کورته زما دراتګ نه وروسته زما دبدن ټیونه ورځ تربلې ورځې شدید کیږی اوس هم زما د ۱۱ میاشتو وړه ماشومه لور صفیه جانه په خوب کې چیغې وهی او ژاړي او داسې چیغې وهي چې په خوب ویده ټول کسان پری راویښیږي. (پای)

د امریکا او افغانستان اړیکې بیا پیچلې شوې

لاس انجلس ټایمز ورځپاڼې پردې تبصره کړې، چې جمهور ریس حامد کرزي، په وروستیو کې په میدان وردګ ولایت کې د امریکا ځانګړي ځواکونه (سپیشل فورس) او د هغوي افغان ملګري د ملکي خلکو په اختطاف او شکنجې تورن کړل او له دې ولایت څخه یې د هغوي د وتلو فرمان یې ورکړ.

ورځپاڼې په لیکنه، د جمهو ر ریس حامد کرزي دفتر ادعا کوي، چې په وردګو کې د امریکا د خاصو ځواکونو د عملیاتو په ترځ کې د پوهنتون یو محصل نیولی شوی او بیا په داسې حال کې موندل شوی، چې سر او ګوتې ورڅخه پرې شوې وو.

په همدې ولایت کې په یوه بله پیښه کې، د ورځپاڼې په لیکنه، د امریکایي ځانګړو ځواکونو له خوا ۹ تنه نور افغانان نیول شوي، چې تر اوسه لادرکه دي.

د میدان وردګ ولایت د پولیسو مشر سردار محمد ځاځي، لانجلس ټایمز ورځپاڼې ته ویلي، چې د دې ادعاو د څېړلو لپاره یې کسان په دنده ګومارلي دي، خو تر اوسه د دې ادعاو په ملاتړ کې هیڅ ډول شواهد لاس ته نه دي ورغلي.

ښاغلي ځاځي ویلي: د دې مسالې په ارتباط هیڅ اسناد مې په لاس کې نشته.

د لاس انجلس ټایمز په وینا، دا تر ټولو وروستۍ پیښه ده، چې د امریکا د متحدو ایالاتو او د جمهور رئیس حامد کرزي د حکومت ترمنځ د اړیکو د خرابوالي څرګندونه کوي.

د ورځپاڼې په وینا، دا د راتلونکي کال تر پایه له افغانستانه په نرمۍ او کراری د ۶۶زرو امریکایي عسکرو د ایستلو لپاره، د متحدو ایالاتو هڅو ته یوه بله ضربه هم ده.

لاس انجلس ټایمز لیکي: د ولسمشر بارک اوباما په مشری حکومت له ډیرې مودې راهیسې جمهور ریس حامد کرزي ته د په زړه برابر همکار په سترګه نه ګوري.

د ولسمشر اوباما ادارې په مکرر ډول په افغانستان کې په اداري فساد کې د جمهور رئیس کرزي د نږدې کسانو د لاس درلودلو د ادعاوو څخه شکایت کړی دی.

د ورځپاڼې په لیکنه، د جنوری په میاشت کې د ولسمشرانو اوباما او کرزي لیدنه د دواړو هېوادونو ترمنځ د اړیکو یوه تازه پیل وګڼل شو، خو په وروستیو اونیو کې د ایتلافي ځواکونو د فعالیت په اړه د جمهور ریس حامد کرزي له شکایتونو داسې څرګندیږي، چې دا اړیکي بیا پیچلي شوي دي.

دستور رئیس جمهور کرزی،...

زیرا اگر با این اقدام ولایت میدان وردک تحت کنترول طالبان درآید، در حقیقت دروازه های کابل برای آنها باز می شود.

اما لوی درستیز قوای نظامی افغانستان جنرال شیر محمد کریمی می گوید، شاید هدف این تصمیم رئیس جمهور کرزی خاموش نمودن بعضی از اقوام و باشنده گان ولایت میدان وردک باشد تا آنها بر ضد حکومت اقدام نکنند.

به گفته آقای کریمی رئیس جمهور کرزی بعد از شکایات مردم در مورد بدرفتاری قوای خاص امریکا در اینجا و پامال گردیدن حقوق مردم توسط آنها این تصمیم را گرفت، که البته در این اقدامات نام قوای خاص افغان هم شامل می باشد.

"شکایت اساسی از قوای خاص افغان است که در منطقه عمل می کنند. آنها مردم را تحت فشار و شکنجه قرار می دهند و حتی آنها را می کشند. ادعای وجود دارد که ۹ نفر لادرک شده اند. این معلوم نیست که آنها در کجا می باشند و ادعا اینست که آنها توسط قوای خاص افغان ربوده شده اند."

سخنگوی آیساف گونتر کاتس روز دوشنبه در کابل گفت، ناتو تا حال اسنادی را بدست نیاورده است که ادعا را در مورد بدرفتاری قوای خاص ثابت کند. "ما هر ادعای بد رفتاری را جدی می گیریم و سعی می کنیم تمام حقایق مربوط به آن واضح شود. در چند هفته گذشته ادعا های زیادی وجود دارد که قوای خاص در میدان وردک غیر مسلکی رفتار می کنند. تا حال ما شواهدی را بدست نیاورده ایم که این ادعا ها را ثابت کند."

اما در گزارش های که اخیراً بدست رادیو آزادی رسیده خبرهای وجود دارد که قوای خاص امریکا که به کمک قوای خاص افغان عمل می کردند، به بد رفتاری دست زده و شکایات مردم هم در مورد تصرف یک کلینیک مربوط به کمیته سویدن در میدان وردک و ربوده شدن افراد و حتی کشته شدن یک تن از آنها نشر شده است.

یک تن از شنونده گان رادیو آزادی از میدان وردک در تماس تلفونی چنین گفته است:

"در میدان وردک در میدان شهر قوای خاص با افراد بد رفتاری می کنند، ۹ نفر کاملاً لادرک می باشند و یک نفر آنها را سر بریده اند و در زیر یک پل در نزدیکی ولسوالی انداخته اند."

یک شنونده دیگر از این ولایت برعکس در مورد تصمیم برای بیرون کردن قوای خاص امریکا اظهار نگرانی کرده و این اقدام را عجولانه خوانده است.

به هر ترتیب به نوشته خبرگزاری فرانسه مقامات نظامی امریکا گفته اند که آنها کدام حادثه را ثبت نکرده اند که سبب این گونه تصمیم رئیس جمهور کرزی شود. ولی سخنگوی وزارت دفاع امریکا جورج لیتل گفته است که یک کمیسیون تحقیقاتی مشترک از نماینده گان آیساف و حکومت افغانستان ترتیب شده است که در باره این وقایع تحقیق نماید.

په وردګو کې دې د خلکو شکایتونه ...

لوېدیځې رسنۍ وایي چې د افغان ولسمشر دا اعلان به د افغانستان او امریکا ترمنځ د امنیتي موافقې پرسر خبرې لا ستونزمنې کړي. دواړه هېوادونه له څه باندې یوه کال راهیسې له ۲۰۱۴ وروسته په افغانستان کې د پاتې کېدونکو امریکایي پوځیانو د ماموریت د څرنګوالي په اړه خبرې کوي خو د دوی په خبرو کې محسوس پرمختګ نه دی شوی.

د امریکا د بهرنیو چارو وزیر جان کیري د لندن د سفر په مهال وویل: "د افغانستان او وردک ولایت په اړه، د دوی پر اندېښنې پوهېږم، زه تایېدوم هر ډول شکایت چې دوی لري باید په مناسب ډول وڅېړل شي، زه یقیني یم چې دا کار به وشي."

کیري همداراز وویل چې دا مسله د ناټو ترمشرۍ لاندې ایساف ځواکونو سره اړه لري چې د شکایتونو په باب تحقیقات وکړي.

پرون ایساف وویل چې په میدان وردک کې د خاصو ځواکونو له لوري د نامناسب چلند په اړه له شکایتونو خبر دی خو ترهغو به په دې باب څه ونه وایي چې د افغانستان له حکومت سره یې خبرې نه وي کړي.

په واشنګټن کې د امریکا د دفاع وزارت یوه چارواکي، چې نوم یې نه دی څرګند شوی، وویل چې د ایساف هیڅ پوځي په ناوړو اقداماتو کې لاس نه لري.

د رویټرز خبري اژانس د راپور له مخې ده همداراز ادعا وکړه چې په وروستیو میاشتو کې د دفاع وزارت او د افغانستان د ملي امنیت د ریاست په همکارۍ په یوه ګډه څېړنه کې جوته شوه چې ایتلافي ځواکونه د وردک ولایت په ناوړو اقداماتو کې هیڅ راز برخه نه لري. ده زیاته کړه: "څرنګه چې موږ دا ډول ادعاوې جدي ګڼو، د ایساف او د افغانستان د حکومت چارواکي موافقې ته رسېدلي چې ګډ کمیسون جوړ کړي څو په میدان وردک کې د خلکو اندېښنې وڅېړي."

له څو کلونو راهیسې د امریکا پر خاصو ځواکونو او د هغو پر ملګرو افغان ځواکونو د ظلمونو، شکنجو او وژنو تورونه لګېږي. ویل کېږي هغه افغانان چې له امریکایي پوځیانو سره په دې ډول عملیاتو کې ګډون کوي امریکایانو په خپل سر استخدام کړي او د افغانستان حکومت ته ځواب ویونکي نه دي. ادعا کېږي چې د دغو افغانانو په منځ کې ځیني متعصب کسان شامل دي.

په هلمند کې د پولیسو په اړه د بي بي سي په وروستي تحقیقي راپور کې بهرني پوځیان یوه افغان پولیس ته وایي، هغه لور ته چې ډزې کوې ملکیان دي، پولیس په ځواب کې ورته وایي، ټول یو شی دي، پروا نه لري.

تجلیل از قیام سوم حوت همشهریان ...

...این قیام چون در پایتخت صورت گرفت تأثیر مهمی در سطح ملی و بین المللی داشت.

به منظور بزرگداشت از سوم حوت سالروز قیام دلیرانه مردم متدین و مسلمان ولایت کابل در مقابل ارتش سرخ شوروی وقت به روز پنجشنبه که مصادف میباشد با سوم حوت سال ۱۳۹۱ هـ ش، محفل با شکوهی از جانب شورای عالی حزب اسلامی ولسوالی پغمان به اشتراک محترم عبدالهادی "ارغندیوال" وزیر اقتصاد و رئیس حزب اسلامی افغانستان، محترم جمعه خان "همدرد" والی پکتیا، محترم تورن غلام سخی رئیس دارالانشای حزب اسلامی افغانستان، اعضای شورای اجرائیه حزب اسلامی و تعدادی کثیری از اهالی ولسوالی پغمان و ولایت کابل در ساحه کمپنی دایر گردید.

محفل با تلاوت آیات از قرآن عظیم الشأن توسط محترم قاضی صاحب عبدالحفیظ آغاز گردید، متعاقباً محترم عبدالهادی "ارغندیوال" سخنان عالمانه خویش را پیرامون قیام سوم حوت، دلیری، رشادت و قهرمانی مردم مسلمان و متدین کابل در مقابل امپراطوری شوروی وقت، پیامدهای قیام و بالاخره سقوط رژیم کمونیستی ایراد فرمودند، همچنان ایشان در مورد وضع سیاسی موجود کشور، انتخابات آینده ریاست جمهوری و موقف حزب اسلامی افغانستان در رابطه به انتخابات صحبت های همه جانبه نمودند و از همه اشتراک کنند گان خواستند تا کارت رأی دهی اخذ و در انتخابات آینده اشتراک پرشور نمایند تا بدین صورت مکلفیت های ملی، وطنی و ایمانی خویش را انجام دهند و اظهار نمودند اگر خواست خداوند جل جلاله باشد در انتخابات آینده ریاست جمهوری این حزب پرافتخار و فراگیر ملی کاندید مستقل خواهد داشت.

همچنان محترم استاد خواجه محمد موسی "فریور" استاد حقوق و علوم سیاسی پوهنتون کابل در مورد قیام مردم کابل و وضع نابسامان موجود سیاسی کشور بیانیهٔ جامعی را ایراد نمودند. متعاقباً محترم الحاج حبیب الله "منګری" رئیس شورای عالی حزب اسلامی ولسوالی پغمان ضمن عرض خیرمقدم به مهمانان عالیقدر در مورد روز افتخار آفرین سوم حوت معلومات ارائه نموده در قسمت از بیانات خویش چنین ابراز نمودند: (سوم حوت خال قرمز در تقویم کشور است که به دست زنان و مردان آزادیخواه پایتخت با نعره های تکبیر الله اکبر رقم خورد) و خواهان تجلیل هر چه بیشتر و پررنگ تر چنین روزهای افتخار آفرین گردیدند که در مورد چنین بیان داشتند: (بر ما لازم است تا یاد قهرمانان و شهدای آن روز و سایر روزهای تاریخ سازملی را از طریق ادامه راه و زنده نگهداشتن آرمانها و خاطرات شان پر رهرو و سبز نگهداشته زیرا یادآوری از این روزها، روان های پژمرده را صیقل و چشمان نابینا را بینا و ملت را هرچه بیشتر برای آبادی و آزادی کشور منسجم تر و مصمم تر می سازد).

از دیگر سخنرانان این محفل محترم میاصاحب تور گل خان، مسؤول دعوت و تنظیم شورای عالی حزب اسلامی ولسوالی پغمان و محترم زاهدصاحب بودند که در مورد مسؤولیت ها و مکلفیت های آینده اعضای حزب اسلامی علی الخصوص جوانان که پاسداران ارزشهای والای جهاد مقدس مردم مسلمان و متدین کشور عزیز ما افغانستان و رهروان شهدای گلگون کفن میباشند سخنرانی نمودند، در قسمت دیگر از برنامه محترم محمدصابر "ارغندیوال" یک قطعه شعر در مورد این روز به یادماندنی قرائت نمودند و همچنان از جانب تعداد از کودکان و اطفال شهدا و غازیان زمان جهاد ترانه حماسی سروده شد.

قابل یادآوریست که در قسمت های مختلف از محفل با نعره های تکبیر و کفر شکن الله اکبر و شعرهای حماسی توسط محترم انجنیر محمد امین "تباه" به شکوه و عظمت محفل افزوده شد.

محفل با دعائیه از جانب محترم قاضی صاحب عبدالبشیر "فضلی" خاتمه یافت و در اخیر محترم ریئس حزب اسلامی افغانستان و همراهان شان از دفتر شورای عالی حزب اسلامی ولسوالی پغمان دیدار نموده و از کارکردها و فعالیتهای این شورا که در مدت زمان کوتاهی به موفقیتهای چشمگیر در راستای جمع آوری تنظیم و انسجام هرچه بیشتر مجاهدین زمان جهاد کبیر مردم مسلمان افغانستان و بازماندگان شهدا نائل گردیده اند و از تدویر برنامه های تعلیمی و تربیتی شان برای جوانان تمجید نمودند و به منظور هر چه بهبود امور هدایات و رهنمودهای لازم ارائه نمودند. گزارش مفصل در شماره آینده.

مالي وزارت د وزیرانو شورا ...

په خپلو بندرونو کې درولي و.

پخوا تر دې د وزیرانو شورا اقتصادي کمیټې له سوداګرو سره د مرستې لپاره دغه پرېکړه کړې وه. وروسته له هغې چې د مالیې وزارت د وزیرانو شورا د اقتصادي کمیټې له هغې پرېکړې سره مخالفت وکړ، چې له پاکستان څخه د هغو سوداګریزو مالونو دې مالیه وبخښل شي چې دې هېواد په خپلو بندرونو کې درولي و، د مالیې وزارت وایي؛ اقتصادي کمیټې دغه پرېکړه بیرته لغوه کړې.

د مالیې د وزارت ویاند وحید الله توحیدي ازادي راډیو ته وویل؛ چې د وزیرانو شورا د اقتصادي کمیټې دا پرېکړه د افغانستان د قوانینو پر خلاف وه.

ښاغلي توحیدي وویل: چې د افغانستان د مالیاتو په قانون کې داسې موارد نه دي په ګوته شوي چې په ځینو مواردو کې دې ځینې مالونه له ګمرکي محصول څخه معاف شي او د وزیرانو شوا د اقتصادي کمیټې په هغې غونډه کې چې دا پرېکړه شوې وه، د مالیې وزیر نه و موجود.

د افغانستان د وزیرانو شورا اقتصادي کمیټه مشري د ولسمشر دویم مرستیال محمد کریم خلیلي کوي او د مالیې وزیر یې هم غړی دی.

د وزیرانو شورا اقتصادي کمیټې د سوداګرو په غوښتنه پرهغو څه باندې درې زره کانتیره مالونو باندې ګمرکي محصول معاف کړی و، چې پاکستان د څه باندې دریو میاشتو لپاره په خپلو بندرونو کې درولي و. سوداګرو چې پر دې مالونو یې د افغان دولت ته د مالیې د بخښلو وړاندیز کړی و، وایي د پاکستان له لوري په دغو مالونو له مخې ورځنۍ کرایه اخیستل شوې او زیان یې په کې لیدلی.

سوداګرو اوس دغه مالونه په کندهار، کابل او تورخم کې په دې تمه درولي دي، چې افغان دولت ته له مالیې ورکولو پرته به یې بازارونو ته وړاندې کړي. بل خوا د افغانستان د سوداګرۍ او صنایعو د خونې مرستیال خان جان الکوزی وایي دوی په دې اړه نه دي خبر شوي چې د وزیرانو شورا د اقتصادي کمیټې خپله پرېکړه بیرته اخیستې.

نوموړي ازادي راډیو ته وویل، د افغانستان پر عوایدو د مالیاتو په قانون کې په ډاګه شوي چې له هغو شرکتونو باید مالیه وانه خیستل شي چې تاواني شوي وي. ښاغلي الکوزي وویل، چې د حکومت په پرېکړې کې بدلون راتلل به سوداګر په افغان حکومت بې باوره کړي. تر اوسه څرګنده نه ده چې افغان حکومت به سوداګرو ته د خپلې پرېکړې د بدلون په اړه څنګه قناعت ورکړي، تر څو هغوی د څه باندې درې زره کانتیرونو خوراکي او غیر خوراکي موادو مالیه ورکړي او بازارونو ته یې وړاندې کړي.

فهرست حدود ۷ هزار ...

وی افزود که این لیست به وزارت های داخله، دفاع، ریاست عمومی امنیت ملی و شورای امنیت ملی فرستاده شد.

به گفتهٔ وی، ارگان های امنیتی باید این مراکز را در جریان چهار ماه آینده، از نگاه تحکیم امنیت ارزیابی نمایند، تا واضح گردد که امنیت چند مرکز را میتوانند تامین کنند.

امرخیل گفت: "ما میخواهیم که ارگان های امنیتی، تصمیم به موقع را در مورد امنیت مراکز راءیگیری، اتخاذ نمایند تا مردم کدام منطقه به بهانهٔ نبود امنیت، از رای دادن محروم نشوند."

امرخیل افزود که آنها همواره به هدف تامین امنیت انتخابات آینده، جلسات هماهنگی را با ارگان های امنیتی تدویر نموده ودرآینده نیز ادامه می یابد.

به گفتهٔ وی، درکمیسیون انتخابات، همه پلان های عملیاتی به خاطرانتخابات آینده، به خوبی پیش برده میشود و آنها با همکاری ارگان های امنیتی، مردم و نهادهای مدنی، انتخابات آینده را براساس قانون اساسی، به وقت معین بر گزار خواهند کرد.

رییس دارالانشا، همچنان گفت که در انتخابات پارلمانی گذشته، امنیت تقریباً ۶ هزار مرکز رای دهی به سطح کشور تامین شده بود؛ اما این تعداد را در انتخابات آینده به ۷ هزار افزایش داده اند تا با درنظرداشت افزایش نفوس، مردم بتوانند به مراکز رای دسترسی داشته باشند.

امرخیل درحالیکه نقش ارگان های امنیتی را، در حفظ امنیت این مراکز، فوق العاده تاثیرگذار خواند، خاطرنشان کرد که بخاطر تامین امنیت انتخابات شفاف، باید هرنوع همکاری بااین کمیسیون صورت گیرد.

موصوف از ارگان های امنیتی خواست که در جریان چهار ماه، تحلیل و نظریات شانرا در مورد تامین امنیت حدود ۷ هزار مرکز رای دهی، به کمیسیون تسلیم نمایند و ابراز امیدواری کرد که امنیت تمامی این مراکز تامین شود.

رییس دارالانشای انتخابات، همچنان از همه افغان ها، به ویژه از سران قومی، علما، احزاب سیاسی، روشنفکران و اعضای جامعهٔ مدنی خواست تا مسوولیت ملی خود بعد از خروج نیروهای خارجی در سال ۲۰۱۴میلادی را برای به وجود آمدن نظام دلخواه، از طریق موفقیت انتخابات شفاف بهی گونهٔ بهتر ادا نمایند.

به گفتهٔ وی، آنها با این کار میتوانند آیندهٔ بهتر خود را تعیین نمایند و از سوی دیگر در انتخابات با کمیسیون همکاری کنند.

قابل یادآوری است که فضل احمد معنوی رییس کمیسیون مستقل انتخابات، چند روز قبل در یک نشست خبری تصریح کرد که در مناطق ناامن، مراکز راهی را ایجاد نخواهند کرد. قرار است که انتخابات ریاست جمهوری و شوراهای ولایتی، به تاریخ ۱۶ حمل سال ۱۳۹۳ صورت گیرد.

په کابل ښار کې د استوګنې ...

د سه شنبې په ورځ له ترکي شرکتونو سره د تړون د لاسلیک کیدو پرمهال وویل؛ دا بلاکونه به زر اپارتمانونه ولري او په یوه کال کې به بشپړ شي.

ده وویل، دا اپارتمانونه به په قسطونو خلکو ته ورکړل شي: "د دې پروژې ځانګړنه په دې کې ده، چې هغه ژمنه چې وزارت کړې چې خلکو ته به ارزانه کورونه جوړوي، د همدې ژمنې له مخې مونږ د ترکیې د کور جوړونې له کمپنۍ سره تړون لاسلیک کړ. هیله ده د دې پروژې چارې په یوه کال کې پای ته ورسیږي."

د ښارجوړونې وزیر د اپارتمانونو د بیې په هکله څه ونه ویل. له دې مخکې هم د ښارجوړونې وزارت د دې ډول بلاکونو د جوړولو تړونونه له یوشمېر کورنیو او بهرنیو کمپنیو سره کړي دي.

یوکسل، او یونس ګروپ هغه ترکي کمپنۍ دي چې په کابل ښار کې د استوګنې اوسنې ځوارلس بلاکونه جوړوي.

د یونس ګروپ د کمپنۍ رییس خلیل اونال وویل؛ دا بلاکونه به پنځلس پوړیز وي او په ترکي ډیزاین به جوړ شي: "زموږ د کارسیستم داسې دی، چې په هرو درې ورځو کې به د ودانۍ یو منزل سرته رسیږي. د زلزلې په وړاندې لوړ مقاومت لري او باکیفیته مواد به په کې وکارول شي."

دا هڅه په داسې حال کې کیږي، چې له دې مخکې د هیواد د کور جوړونې د فابریکو د فعالولو تړون د روسیې له یوې کمپنۍ سره لاسلیک شوی دی.

شهادت اوونیزه
دغه رنګ موتاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ
د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي خانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل (خلیل)

د اړیکو شمېرې:
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستیال مدیر: ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

- د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
- د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
- رالیږل شوې مطالب نه مستردیږي . یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

دیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مېنه، کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com